www.momandpublications.com

# احساس خبرې کوي

Ketabton.com

لیکوال:
همت تکل

(c) ketabton.com: The Digital Library

**مومند خپرندویه ټولنه – جلال اباد، ننګرهار**

**مومند خپرندويه ټولنه، حاجي ګل پلازه، پښتونستان واټ، جلال آباد – ننګرهار**

**info@momandbook.com – www.fb.com/momand626161**

**۰۷۸۱۶۲۶۱۶۱ - ۰۷۰۰۶۲۶۱۶۱ – ۰۷۷۷۶۲۶۱۶۱**

## د کتاب ځانګړنې:

**د کتاب نوم:** احساس خبرې کوي - ۰۷۷۸۳۱۲۱۲۰

Himmatsalarzai@gamil.com

**لیکوال:** همت تکل

**کمپوز چارې او پښتۍ ډیزاین:** لیکوال

**ډیزاین چارې:** ایملیار ساجد

**چاپ کال:** ۱۳۹۷ل – ۲۰۱۸م

**چاپ وار:** لومړی

**د چاپ شمېر:** زر ټوکه (۱۰۰۰)

**د چاپ حقوق له خپرندویې ټولنې سره خوندي دي.**

**کابل:** اصلاح افکار ، دارالسلام، مستقبل، پکتوس، اکسوس او سروش کتابپلورنځی.

**پکتیکا:** مجاهد او آریانا کتابپلورنځی.

**کندهار:** امیر کروړ، افغان او عرفان کتابپلورنځی.

**خوست:** غرغښت، رحیمي، سباوون، ژوندون، ابدالي، لېوال، غازي او شېخ زید کتابپلورنځی .

**هلمند:** سید جمال الدین او تاج منور کتابپلورنځی .

**پکتیا:** علمي او روحاني بابا کتابپلورنځی.

**غزني:** قیومي کتابپلورنځی.

**لغمان:** یونس کتابپلورنځی.

**مزار شریف:** ثقافت کتابپلورنځی.

www.momandpublications.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ

**پلار ته مې! چې د چارو تر سره کولو کې يې زړورتيا راښودلې.**

**ګرانې مور ته مې! چې هر کله په ژوند کې لوېدلې يم بېرته يې پورته کړې يم.**

www.momandpublications.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سریزه

د ادبیاتو لویه موخه دا ده چې په انساني نړۍ کې فکري تنویر رامنځته کړي، روغ فکر وړاندې کړي او د قلم په ژبه فکر وپالي .د شعر او نثر کشتۍ د همدې موخې لپاره د ژوندانه په سمندر کې سفر کوي .په ادبیاتو کې کمال دا وي چې عادي خبرې د هنریت په جوهر پسولي او د معنویت رنګ ورکوي .کله چې خبرې هنري وي زړه ته لاره پیدا کوي او پر زړه حکومت کوي .

دلته مورږ د ښاغلي همت(تکل) هغه وجیزې او ادبي ټوټې په لاس کې لرو چې ده .ذهن په کار اچولې په کتابګوټي کې ښه مفاهم په ادبي روانه ژبه لیکل شوي او د معنوي له کیسي پرده پورته کوي .دا ډول لنډې او وړې ادبي ټوټې په اسانه فکر انتقالولای شي، په اسانه مفاهم وړاندې کولای او افکار فتحه کولای شي .

خو ما چې ولوستل روانه ژبه لیکل شوي ،عام فهمه او له ادبي جوهره برخمنه ده .زه ښاغلي همت ته په دې برخه کې لا زیات بریا غواړم، هیله مې دا ده چې لا ډېر اثار ولیکې او د خپلې ټولنې ته یې وړاندې کړي .

په پای کې ښاغلي همت ته د دې لیکل شوې کتاب له امله مبارکي وایم او په راتلونکې کې یې د نورو بریاو په هیله یم .

درنښت

سیدامرالله امېد

(c) ketabton.com: The Digital Library



مور!
ویاړم چې تاسو لرم
او ماته مومینه راکړې ده
الله دې راته ژوندۍ لره
***
مورې!
د ګلونو باغ ته لاړم ستا لپاره مې ګل لټولو
پوه نه وم، چې هغه هم خزان وهلی
نن مې ازموینه ده
داسې ازموینه، چې ستا لاسته راوړلو ثمره نن په لاس راځي
***
هر یو درد درته ما درکړی دی
غواړم چې هر درد مو هېر کړم
نور درنه ځم.
تا ژمنه کړې وه، چې همېشه به ستاسو سره یم
ته هم لاړې او ژمنه دې هم پوره نکړه
ستاسو سره ما دومره بد کړي وو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ستا ډېرې خاطرې زما په ژوند تېرې شوې**
**که چېرته تاسو نه وای، زه نشم کولای چې ستاسو خاطرو سره وخت تېر کړم.**
**همېشه به دې راته ویل، چې زما ښخه لېرې لاړ شه**
**نن درنه دومره لېرې ځم**
**چې، دوباره په راګرځېدو مې ونه پېژنې**
***
**راشه نن مې د زړه دنیا بدله کړه**
**غاړه راته راکړه**
**غواړم تېرخوند مې دمودو وروسته تازه کړم**
**هله راشه! چې ډېر یوازې شوی یم**
**ته راشه، غواړم چې په غېږ کې دې کلک ونیسم**
**زما د ژوند هره هیله تا پورې تړلې شوې ده**
***
**دا وګوره! دا ستا زړه دی**
**خپل زړه یادوم**
**ستا د اوسېدو یواځنی ځای**
**چې هیڅکله به یې بل چاته ورنکړم**
**ته راشه زړه مې وګوره**
**نن یې څومره یادولې**
**دا وګوره ستا د پاره مې څومره ځان جوړ کړی دی**
**پوهېږم چې په مینه مې په غېږه کې نیسي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**قلمه! تا کې هم رحم نشته**
**لږ رحم وکړه**
**د خاطراتو په کتابچه کې راته د درد لیکلو توان ځان کې پیدا کړه**
**نوې ورځې له پیل سره د نوي ژوند خوبونه مې لیدل**
**خبر نه ومه، چې خپل ژوند مې جوړ نکړ او ژوند مې د لاسه ورکړو**
***
**هره خاطره دې راته ځانګړې مینه راکوي**
**خوب هم ستا د خیالونو په ټال مې زنګوي**
**ایا پوهیږې؟**
**زړه مې غواړي همېشه پدې ټال کې وزانګم**
**ای!**
**ته ولې ورځ تر بلې ښکلې کیږې**
**سینې ته مې نژدې کړه**
**ورته مې وویل، ته راته په ښکلو سترګو ګورې**
***
**څومره په مشکل سره مې ستا زړه تر لاسه کړو**
**خو ستا د زړه د ساتلو هنرمې یاد نکړو**
**هغه به څه کړمه اوس**
**هغه د بل د کور شوه**
**غواړم چې هېره یې کړم**
**خو څه وکړم زړه مې فیصله د پرېښودو نه مني**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نن هم هماغه ورځ ده**
**هغه ورځ چې تاسو خپل د مينې ثبوت راکړ**
**هغه ورځ مې اوس هم ياده ده**
**باران و**
**او ځان مې ستا لپاره په سينه وويشتو**
**دا چې مړ نشوم پوره مې نه وه**
***
**اخ!**
**ستا په سر مې خپله کورنۍ پرېښوده**
**نن تاسو زه پرېښودم**
**دوکه مو وکړه**
**زه او آسمان يو شی يو بس کله چې ځمکه خفه شي، نو اسمان يې په حال ژاړي**
**او زه چې کله خپه شم، نو سترګې راسره ملتيا کوي**
***
**ای!**
**ته مه ژاړه!**
**ته ارام وکړه!**
**ستا پرځای نن آسمان راسره ملګرتيا کوي،هغه ماسره يوځای شروع کړې ده**
**ای!**
**ته مه خاورې کېږه...**
**ستاځواني مې په خاورو نه پېرزو کېږي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کله چې تا وګورم فکر کوم په نړۍ کې تر ټولو خوشبخته کس زه یم او**
**چې ته راسره نه یې په ډک مجلس کې ووایم زه څومره یوازې یم**
**تا ماته بیا ژوند راکړ راشه چې ښکل دې کړم او په مینه درته ووایم چې،**
**مننه!!**
**چا راته وویل چې په نه لیدلي یار څوک نه مینېږي!**
**ومې ویل چې مورې ټولو خدای ج نه دی لیدلی خو څومره مو خوښېږي**

***

**زه به څنګه خپل درد بیان کړم**
**درد د پښتولونه دی.**
**نن وګوره**
**د سحر مې پیل په ژاړه دی**
**نه پوهېږم،**
**چې څنګه مې رایاده شوې.**

***

**ته راشه نور می د زړه**
**زخمونه مه تازه کوه**
**نه غواړم پرته ستا ژوند وکړم**
**اه!**
**نن بیا ناروغه یم**
**ته مې درملنه یې خو څه وکړم؟**
**چې زماڅخه لرې یې.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



زماتصویرساده دی
خاموشه خاموشه موسکا نلري
که ته ورته ځیرشې ډېرې کیسې پکې دي
ستا دلاس نښه هماغه قلم دی
چې د پوهنتون په پیل کې دې راکړ
او تر پایه یې راسره ملتیا وکړه
ډېر څه یې ولیکل خو؛ د زړه درد یې راته کم نکړ
***
هرڅه پیل او پای لري
زما دژوند پیل ته وې
مګرپای نه شوې!
***
د محبت کیسې پریده
نغواړم چې ستا سو سره یې پیل کړم
باور څنګه پرتا باور وکړم؟
کله چې ستاسره مخ شوې یم
رښتیا خبره مې نده اوریدلې.
***
ستا نوم څومره خوږ دی
کله چې یې څوک اخلي
روح مې ورسره تازه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پلار!**
**ته یې چې نن دغه مقام په لاس لرم!**
**نغواړم چې بې ستا ژوند وکړم.**
**هره لوبه چې کوی راسره**
**وکړه خو؛ د لوبې پریښودل هم**
**بایللو کې راځي.**
***
**ما مه پرېږده که زما د پرېښودو**
**تصمیم لرې!؟**
**کېدای شي دا نړۍ پرېږدم.**
***
**پوهه!دا وایې زما تر لاسه کول ستا ژوند ښه کول دي**
**هڅه وکړه چې نوره هم ترلاسه کړی.**
**ټولې خاطرې د ځان سره وساته**
**کېدای شي! چې یوه ورځ**
**مې دنشتون احساس وکړې.**
***
**د کتاب لوستلو سره ته رایاد شې**
**اه!**
**نه پوهېږم**
**داسې څه دي تا کې چې هروخت مو یادومه!؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما د ژوند سرمایه ته یې

اه!

ته ولې ما دځان نه جدا کوې!؟

تا خوما سره ډیرې ژمنې کړې وې.

***

نن د سولې ورځ ده

راځه چې سوله وکړو

هیوادموسولې ته اړتیا لري

تا راته ډیرې خاطرې دځان سره پریښودې،

نه پوهیږم ستا ژوند سره کومې خاطرې تړلې شویدي!؟

***

نن مې د فیسبوک نړۍ ته خپل تصویر پورته کړ، وګورم چې څوک زما د ژوند انځور مطالعه کوي.

***

خاطره!دا لیکلوته اړتیا نلري چې په کتاب کې ولیکی.کوشش وکړه چې خاطری په ذهن کې وساتی.

موده وروسته مې قلم را پورته کړ،

نن به درته ډیرڅه ولیکم

مګرهغه څه نشم پکې لیکلی کوم

چې درد نوم لري،

ځکه درد خو تا راکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نن مې ډېر وخندل تاسره،
ځکه چې ترځنګ مې وې.
***
مسافراومینه اوجدایي څخه ډېر راته ګرانه ده
هیڅ یویا دمو راسره نشته چې وخت ورسره تیر کړم
نن مې را یاد شو هغه تیروخت
ښه ډېرمې وژړل،
اوس راسره نه یې خوستا دهرې ورځې کیسوسره عادت شوې ومه.
***
اې!
ته راشه وګوره نن مې زړه درته څه وایې
هغه تاته ډېرڅه ویل لري
خوستا لوری ورځ تربلې درد ورکوي
اوففف درد!!
تاماته درد راکړاولاړې!
ظالمه !اول به دې ویلي وای چې له ژونده مې لرې لاړ شه.!
***
زه به څنګه تنها خپل ژوند مخکې یوسم؟
کله چې تاخپل ژوند ګڼم!
لاس مې پرېږده!

(c) ketabton.com: The Digital Library



**سوله دهریو افغان هیله ده!**
**نه غواړم چې، لاس مې ستا د لاس سره عادت شي،**
**داسې نه چې پریمېږدې بیا به دې هېرولی نشم....**
***
**نن مې لمونځ کې رایاد شوې!**
**ومې غوښتل دعا درته وکړم!**
**خو نه؛ داسې ونه شول، ځکه تاسو چې کوم درد راکړی دهېرولو نه دی.....**
**نن دې دواړه لاسونه زما په لاس کې راکړه!**
**او سترګو ته دې ووایه چې ښه ډېر مې سترګو ته وګوري،**
**نن مې موده وروسته سترګې تاته څه ویل لري.**
***
**نن خاموشه ورځ ده، آیا ویلی شې چې ولې!؟**
**نه، نه، ته څه پوهېږې،زه به درته وایمه تاسو زما د زړه نړۍ خرابه کړه.**
***
**نن دې راته ډالۍ راکړه ایا پوهېږې!؟**
**ستاډالۍ د نړۍ قدرته خوشحالي راکړه.**
**هغه خاطرې ښه مطالعه کړه کومې چې مې ستاسره پرېښودې بیا ځان سره سوچ وکړه،**
**چې غلطي ستا او که زما وه!؟ چې یو بل څخه جدا شو.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



اه!

ته د وفا خبرې مکوه، تاسو زما ژوند زما څخه واخیسته.

نن راته وفا یادوې که چیرته تا د وفا په نوم څه پیژندای!؟ زه به دې نه پرېښودم!

اعتماد!

نن مې اعتماد هم ووژل شو،

کوم چې مې پرتا باندې کړی وو

نن دې راته زړه ډېر ودردو.

***

لفظونه!

ته هم د لفظونوپه شان دې دروغجن یې

تا خو ماته ډېر څه ویلي و؛ چې ستاسره به ترمرګه یم،

مګر نن دې تنها پریښودم!

***

اوفففف ته مه ځه!

که ته لاړې ستا په تلو راته دا نړۍ بې معنا ده،

نه غواړم چې پرته له تا په دې نړۍ کې ژوند وکړم.

***

نن مې د ژوند امتحان و،

ډېرڅه مې پکې حل کړل،

ستا د مینې هرسوال ته مې ځواب ورکړ؛

مګر ستا په زړه کې ځای پیدا کولو کې بریالی نشوم!

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مینه!**
**ډېر لوی نوم دی خو؛ حقیقي مینه هغه ده،**
**چې تر واده ورسېږي!**
***
**ستا نشتون راته ډېر سخت دی**
**خو څه وکړم تا سره ژمنې مې چې کړې دي، یوازې مې نه پرېږدي.**
***
**بیلتون!داسې درد دی چې درمل یې ستا په شتون کې دیکه چیرته تا**
**سورا نه شي ډیر زر به ومرم**
**دومره هم لرې نه یم،**
**څومره چې مې ته لریوالی احساسوې؛ نو**
**هیله کوم ژوند ته مې راشه.**
***
**ډېر درد ګورم**
**نه پوهېږم ګناه مې څه ده!؟.**
***
**کتاب!که غواړې چې تنهایي مو ونه څوروي**
**او تشوش مو کم وي کتاب مطالعه کړه.**
**زه په هغه ناروغۍ اخته یم،**
**کومه ناروغۍ باندې چې ستا په شتون کې اخته وم**
**کنسر یادوم.!**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نن ډېر خوشحاله راته ښکارې!**

**هو!**

**ځکه د مودو وروسته مې ستا سترګې وليدلې.**

***

**دومره مه مغروره کېږه يوه ورځ به د خاورو لاندې شي او غرور بدې خاورې شي.**

**پرېږده مړه!**

**ستا به کوم، کوم**

**درد ته ژاړم!؟.**

***

**دا د لاس ننبه د ځان سره وساته!**

**داسې وخت به راشي چې اړتيا ورته ولرې.**

***

**کله قلم قاغذ چې راواخلمه**

**ډيرو درديږم**

**حيران شم چې څه وليکم ما يو سه بيرته کيدم.**

**اې!**

**زه ډېرخوشبخته يمه**

**ته پوهېږې چې ولې؟**

**ځکه چې تا د ځان سره لرم، نو ځکه سکون احساسومه.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



نن د مئينانو ورځ ده،
زه به تاته داسې ډالۍ درکړم
چې هرقدم کې دې ملتيا وکړي!
***
نن د مئينانو ورځ ده
زه به تاته داسې ډالۍ درکړم
چې زما نشتون کې هم زما ځای چاته ورنکړې!
***
ای!
نن نوی کال پيل کيږي
راځه دواړه هم د نوي
ژوند پيل وکړو!
ای!
نن خو راته وخانده
غواړم ستا دسروشونډو
خندا نن د نيږدې وګورم!
***
ای!
ته مه ځه!
ستا تګ د تل لپاره ما ته درد راکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کله کله بدی سیوري راسره ملتیا کوله**
**اوس د هغې هم نفرت لرم.**
**همېشه مې ستا خوشحالي غوښتې،**
**ځکه ته مې د زړه دنیا یې!**

***

**نن شپه مې ستا تصویر سره**
**ډېرې خبرې وکړې،**
**هغه څه چې مې ترلاسه کول غوښتل لاسته رانغله!**
**ستا خندا،**
**ستا خبرې،**
**ستا د سترګو اشارې،**
**بس خاموشه خاموشي کې یې را باندې شپه سبا کړه.!**
**زه به څومره مینه درکړم؟!**
**هغه مینه خو تا ووژله.!**

***

**ای ربه!**
**ژوند د انسان دپاره دی**
**خو زه مو د ژوند کولو نور**
**ناهیلی شوم ستا بندګان هیڅ وفا نلري.**

***

**ډېرې ژمنې مو یو بل سره وکړې،**
**خوځه وکړو، هرڅه موهېرکړل**
**چې نن یې د یادولو د پاره څه نه دي پاتې!**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**زه به څومره وفا درکړم! ؟**
**ترکومه به ستا مینه په زړه کې وساتم!؟**
**ایا ته اوس هم زما په انتظار یې؟.**

***

**ته څومره دروغجن یې**
**څومره چې دې څېره ښکلې ده،**
**هغومره دې زړه چټل دی.**

***

**اه! ته او مینه تا ما سره دوکه کړې ده،**
**مینه هغه ده چې سرته ورسیږي،**
**نه د مطلب دپاره، چې په نیمه کې انسان ته درد ورکړي!**
**راځه !چې نن سره ښې ډېرې کیسې وکړو په ژوند باور نشته**
**داسی نه چې ومرم!**

***

**ډېر خوشحاله یم چې تا د ځان سره لرم،**
**که ته نه وای!؟ زه به اوس په دې نړۍ کې څه وم!؟.**

****

**هره خاطره به دې له ځان سره وساتم،**
**پوهېږم؛**
**یوه ورځ به راشي چې ټولې به مې ملتیا وکړي.**
**خانده خانده!**
**داهم احساس دی ستا په زړه کې**
**چې ستا خندا ماته نوره خوشحالي هم راکړي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مينې درد

مينه ډېر درد لري، که چېرې ورته ورسېږې، نو لرې نه ده چې ټول عمر درته سکون او خوشالي درکړي.

***

لومړی ځل دی چې لاس دې په لاس کې نیسم، مه ډارېږه دا مې سپیڅلتیا ده چې تا ته یې درکوم.

***

ته لاړ شه څومره چې لرې ځې، خو زما د زړه وزر هم ستا د زړه په دروازه کې انتظار دي او که نه زه سترګې له دې نړۍ پټوم، نه غواړم په هغه ځای کې واوسم چې ستا په خوشبو معطر نه وي.

داسې څه راته ووایه چې د ژوند تر پایه ورسره مشغولتیا وکړم او یا داسې نښه راکړه چې شپه او ورځ پرې سترګې موږم تردې مې د زړه ډب ډب پر ځای وي.

***

له کله چې تا پرېښودم، زړه مې په پښو کې رغړي، کاشکې تا زړه درلودی، نن به زه ستا دوه برابره نه ځوریدم.

***

هر څوک راته د وفا خبرې کوي، خو د وفا پر مطلب نه پوهیږي داسې لکه کوم صحرایي چې ستا د وجود طبابت کوي.

***

مينه هغه ده چې پای ولري او ته هم مينه تر مطلبه پورې مه کوه .تعهد وکړه چې د ژوند تر پایه دې پایم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ای!

کاش چې تصویر ته خو مې دې په برندو سترګو کتلی شوای، باور وکړه ستا له تصویر مې هم سترګې ځمکې ته ځي، تصویر ته دې داسې خبرې کوم لکه ستا حقیقي جسد، خو تصویر دې ویلو ته څه نه لري.

هره سندره راته ستا یو یاد راتازه کوي، نه پوهېږم چې ستا

او

د سندرو تر منځ کومه اړیکه او راز دی.

***

ستا هغه تصویر مې میلمه دی چې نه دې غوښتل رایې کړې او په نه زړه دې راته ونیو، او هغه هم زما د تنهایۍ لپاره.

زما لپاره ستا هره ساه خاطره ده خو هغه خاطره به د اسرافیل شپېلۍ رانه هېروي چې په تلو تلو کې دې زما اوښلنې سترګې ښکل کړې.

***

ستورو ته وګوره څومره په مینه له یو بل سره ژوند کوي تا له دې هم عبرت وانه خیست او زه دې څومره د تنهایۍ په درشل کېنولم، کاشکې مې ستا د بېلتون کیف درته لیکلی شوای.

خاموشه خاموشي ده نن شپه د سپي غپا هم نشته.

اه خدایه! دا دنیا څومره ښکلې ده، هره شپه راته نوې کیسې کوی !

***

څه فکر کوې، هغه رنګونه به مې هېر شي چې ستا د ژوند نړۍ جوړوي؟

نه بلکې همدا رنګونه دي چې ستا تصویر ته ترې رنګ ورکوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دا باران څومره په خوند اوري، یاد دې شي چې دواړه لاس په لاس په باران کې په خپلو قدمونو باندې د باران پوکانۍ ماتولې؟**

***

**څومره خوندوره فضا یې جوړه کړې وه، خاص زما او ستا لپاره باران یادوم!**

***

**ملګرتیا!اسانه لفظ دی خو څوک به یې ستاتنه وکړي**
**هر یو چې اوګوری د لمر په څير اوسي چې سحر وياو مازيګر پريوځی.**
**نن به د خاطرې په کتابچه کې یو څه ولیکم، اې هغه مینه چې لومړی مې له تا سره پیل کړې وه د ژوند تر اخيره به ستا وي، ځکه چې زه ستا یم.**

***

**اه څومره خوږ لګي، هر یو څاڅکی لکه شبنم چې د ګل په پاڼه ښکلی ښکاري.**

***

**نن شپه باران وريږي، نن شپه له باران سره ښه ډېر ژاړم، نه غواړم چې باران دې بې له ما شپه سبا کړي.**
**باران څه خوند لري،**
**هر یو څاڅکی یې د مین کهاني وايي.**

***

**اوف ...ستا تصویر ته به بیا اوښکې توی کړم، ځکه چې نن شپه باران د ځمکې په درد ژاړي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



مور ستا په قدر هغه څوک
پوهیږی نن چې څوک مور
نلری خدایه هیڅوک بی موره
نکړی.

باران ته وګوره، کله چې مې ستا په درد اوښکې بهول شروع کړل، باران هم راسره د زړه خواله شروع کړه او نن شپه یې تر سحر راسره ملتیا وکړه.

***

زه به ولې نه ژاړم، دا وګوره اسمان هم له ما سره یواځې ژاړي، نه غواړي چې تنها مې پریږدي.

***

شپه تر نیما یې ورسیده
ماته اوس هم خوب نه راځې
ناست یم ستا د جدایې سندری اورم
خاموشه شپه نری باران
زه او ستا تصویر
او د غم او بیلتون سندرې
دا نو څه ژوند شو؟
دا نو څه ډول مینه ده؟
چې هر یو یاد دې زما سره پرېښود
او شپې ورځې د بل تر څنګ تېروې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت به راشي ډېر به وژاړې
که نن زه ژاړم
ستا د ژړا وخت به هم راشي
خاموشه ښه يم نه غواړم، چې ستا په زخمونو مالګه ووهم
دا وګوره! شپه تېرېږي
مګر ستا يادونه مې هيڅ نه پرېږدي.
***
ربه! دا څه وخت شو
چې شپه هم بې د ياره تېروم
***
ته ويده او زه ويښ
دا هم ظلم دی چې ته يې له ماسره کوې.
هغه زړه چې زما لپاره جوړ وو
نن هغه زړه د بل د ژوند د جوړېدو هڅه کوي.
***
پوهېږم!چې اوس هم ستا په زړه کې ځای لرم خو څه وکړم، تا خپل ژوند د بل سره جوړ کړ.
***
اه! نن په خندا راسره مخ شوې
تاسو خپله ياست که خوب وينم
داسې خو نده چې بيا لاړه شې.
نړۍ به پرېږدم، ځکه چې ژمنه مې کړې وه
چې ستا په تلو به داسې پرېکړه وکړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وخانده! څومره ښه در سره ښکاري**
**همدا خندا ده چې ماته خوشحالي راپه برخه کوي.**
***
**راځه چې جوړه وکړو**
**تر څو به خفه او د يو بل څخه لېرې ژوند کوو.**
**نن مې ژوند بدل شوپوهېږې!**
**ځکه، ژوند ته مې ته راغلې.**
***
**انځورموښکلی راغلی پوهېږې چې ولې؟ځکه چې په لومړي ځل دې په شونډو خندا گورم.**
***
**راشه، راشه زه ستا په انتظار يم**
**غواړم چې نن دې وگورم**
**سترگې مې د ډېرې مودې ستا د ليدو په انتظار دي.**
**هره ورځ وايم چې نن به سکون وکړم**
**خو نه!**
**زما په قسمت کې سکون نشته**
***
**زه مطالعه کوم، غواړم چې راتلونکی مې روښانه اوسي**
**همدا تعليم دی چې زما د ژوند په جوړولو کې زما سره مرسته کوي**
**نن د سولې لپاره مبارزه پيل کوم**
**همدا سوله ده چې هر افغان ته خوشحالي ورکولای شي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مور ستر نعمت دی**
**څوک چې د دې نعمت څخه بې برخې شوی اوس یې ارمان کوي**
***
**اخ!**
**څومره ښکلې ډالۍ، چې همېشه ورته سترګې په لاره ومه**
**مینه درسره لرم، ژوند مې یې**
**همدا ته یې چې خوشحاله یم**
**که نه خپل خپلوان مې ټول راته درد راکوي**
***
**څه مو وویل؟ نه دې پېژنم!**
**اخ! دا څه اورم تاسو زما ژوند هستۍ**
**نن راته وایې، نه دې پېژنم**
**موسکا وکړه، چې روح مې ډېر نارامه دی**
**غواړم چې زړه مې ستا په موسکا راژوندی شي.**
***
**اخ!**
**ودې خندل**
**ډېر خوشحاله شوم، پوه شوم**
**تاته د تېر په څېر مهم یم.**
**هڅه مې هیڅکله بې ځایه نده**
**غواړم تاته ډېرې خوشحالۍ درکړم**
**غواړم ژوند مو بدل کړم**
**همېشه خندا در په برخه کړم.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**قلم او کتاب**

**همدا دوه نه جلا کېدونکي دي**

**راځئ! چې د قلم او کتاب په انتخاب خپل سرنوشت وټاکو**

**قلم به پورته کړم، ډېر څه به ولیکم**

**یواځني څه چې د لیکلو توان یې نلري**

**زما درد دی**

***

**کله داسې وخاندم، چې خندا مې درد پیل کړي**

**خو ستا په یادولو هر څه هیر شي**

**هغه یوه خبره، چې همېشه راته ستا خندا یادوي**

**هغه الفاظ، چې ستاسو د اخلاقونمایندګي کوي،داهرڅه به وغورځوم،**

**هېڅ مې د درد دوا نه شوه**

***

**نن راشه چې اختر دی**

**ګوره! د یو کال خفګان وروسته هم ستا د غېږې په ارمان یم.**

***

**هره خوشحالي مې پیدا کړه**

**خو کومه خوشحالي چې زموږ د مور په خوشحالۍ کې وه، هغه مې پیدا نکړه**

**همېشه کوښښ وکړئ، چې مور خوشحاله وساتئ**

**مور ده چې نړۍ پرې اباده ده**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اخ!**

**ولې به نه خاندم**

**ته وګوره! يار مې راته څومره ښې کيسې کوي.**

**اخ!**

**ستا په قدر نه پوهېږم، نن چې دې سترګې پټې دي، پوه شوم**

**چې مور لويه هستي، مور نړۍ ده.**

*******

**سوله ژوند دی، سوله سکون دی**

**سوله هغه څه ده، چې د هر افغان په خوله خندا راولي.**

*******

**نوم يې ډېراورم،لا ليدلی مې نده!**

**سوله!**

**نن خاموشه، خاموشي ده نه پوهېږم**

**چې دا زړه مې ولې داسې ناقراره دی**

**ته راشه، که ستا په ليدو سره لږ ارامه شي**

*******

**غواړم همېشه ستا سره اوسم**

**ځکه يوازې ارمان مې ستا په څنګ کې اوسېدل دي**

*******

**ای! ته ژوند وکړه**

**خو لومړی د ژوند کولو هنر زده کړه**

**اختر هم تېر شوخوڅه وکړم،**

**نه مې ستادليدوارمان پوره شو او نه مې ستادغېږې.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اخ!**

**اختردا څومره بختوردی ستا په راتلو مې د مودو مسافر هم را په کور شو.**

***

**د مودو وروسته یې راته دوه خوشحالۍ راکړې**
**دیدن او غاړه.**
**زه او اختر، هیڅکله نه جوړیږو**
**اختر ښه ډېره مینه ورکوي هر یو ته**
**خو زه، هیچا ته مینه نشم ورکولای**

***

**هر څه کوې وکړه**
**ژمنه کوم چې ستا سره په هرقدم کې ملتیا کوم.**

***

**تا ژمنه کړی وه، چې بدلون کوم**
**بدلون مو دا د ی، چې د تل لپاره رانه جلا شوې**
**اختر راغلی ضرور به راځې**
**راسره ژمنه دې د لیدو کړې**

***

**تېره ورځ مې ښه راپه زړه شوې**
**ما ویل مسج درته وکړم**
**خو نه! هغه خبره مې رایاده شوه، چې ویل**
**پر تا نور باور نلرم.**
**ای!راشه داسې ځای ته به لاړ شو چې زه او ته یو**
**همېشه به خوشحاله یو، نه غواړو چې پدې نړۍ کې غمجن وگرځو**

(c) ketabton.com: The Digital Library



باور ډېر په مشکله جوړېږي
غواړم، چې خپل باوردتل لپاره وساتم.
***
قلم مې لاس کې دی، غوښتل مې يو څه درته وليکم
خو نه، قلم مې راته اجازه رانکړه.
د وفا راته مه وايه
همدا د وفا په نوم دې ټول عمرراته دوکه راکړه.
***
درد
هغه درد چې ما درکړو
زما د درد په بدل کې تا راته تل پاتې درد راکړو
هغه نن په غوسه راته وويل
تاسو زما ژوند خراب کړ
د تل لپاره مو درد راکړ
***
څومره چې لېرې يې پوهېږم چې په زړه کې موژوندکوم
نشې کولای چې هېرمې کړې
***
يو ارمان غوښتل مې چې هيڅکله د مور د غيږې لرې
نشم مگر نن مې مور نشته لرې
لاړه صرف ژاړه ده راسره او بس
غواړم چې په سينه دې تل سر کيږدم
ستا د زړه ټکان سره مې زړه ارام وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د خاطراتو د ليکلو لپاره مې ترې کتابچه وغوښته**

**راته يې پکې ليکلي وو**

**چې مينه درسره لرم، خو ستا د ترلاسه کولوباورنلرم.**

**هغه يادونه به څنګه هېر کړم**

**کوم چې د کال د لومړی تر اخره دې راته په پوهنتون کې پرېښوده.**

***

**نه اومه پوه چې لباسې مينه زما سره او د زړه مينه د مخاطب سره کوې.**

***

**راته وايې مينه مې! ومې خندل ورته مې وويل نه غواړم، بيا ووژل شم.**

**هغه ښکلا به څه کړې چې تاسو يې لرئ**

**د ښه ا نسان ښکلا د هغه اخلاق دي**

***

**نن يې حجاب کړی و**

**خو ومې نه پېژنده**

**نژدې شوه او راته يې وويل**

**نور دې نه ښېم**

**ته سينګار وکړه**

**غواړم چې داخرځل لپاره مووګورم**

**غواړم چې مسافرشم**

**ستادښکلا تصويرله ځانه سره يوسم.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کتابچه یې راته راکړه**
**او په ارامه سره یې وویل**
**خیال کوه چې زړه مې پکې دی**

***

**خلکو راته ویل چې پرې باور مه کوه**
**دا مینه نه کوي، ما نه منله**
**نن پوه شوم، چې خلکو رښتیا ویل**

***

**نن یې د مودو وروسته یوه کتابچه راته ونیوله**
**په نا زړه مې ترې واخیسته**
**په لومړي سر کې یې لیکلي وو،**
**مینه در سره لرم**
**هغه ووژلم او رانه لاړه**
**نه پوهېږم!**
**چې ولې یې راسره داسې وکړه**

***

**نن مې ولیدله لږه موسکۍ شوه**
**پوه شومه چې نه یم هیر کړی.**

***

**هغه ورځ مې نه هېرېدونکې ورځ ده**
**چې سینې ته مې نژدې کړې.**
**هغه د لاس نښه دې هر وخت ګورم**
**کوم چې تاسو په خپل لاس راته ګل کړی دسمال راکړو.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه لومړی ځل نه وو،هغه به راته هره ورځ نوې ډالۍ راکوله پاکه اوصادقه مینه پکې لیدل کېده.

***

د بام له سره یې په ګل وویشتم
راته یې وویل، ای!
دا مې د مینې نښه
ما غوښتل چې خپل ژوند دې کړم
خو نه پوهېدم چې ته مینه نه مطلب لرې ځکه مې پرېښودلې.

***

پرېږده چې لاړه شي
نه غواړم چې ستا په نوم نور ژوند وکړم.

***

کوم خوبونه چې مې تا سره لیدلي وو
هغه داسې سیلاب یوړل چې د رانیولو توان یې راکې نشته.
پوهېږم چې تنها خوشحاله یې
خو زما مینه بده مه ګڼه
غواړم ستا سره یوازې شم.

***

هر څه مې پریښودل
نورنه غواړم چې د چا په شتون وژاړم.

***

هره پریکړه تاسو وکړه
نن بې وفا هم ما ته وایې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ای!**

**غواړم څه درته ووایم**

**غواړم چې ستا نامه په خپلو وینو ولیکم.**

***

**باران هم راته خوشحالي راکوي**

**ایا پوهېږې ولې؟**

**هیڅوک نه پوهیږي چې زه ژاړم.**

**ژوند د ښکلا نوم دی**

**کله چې ته راسره یې پوهېږې زه داسې فکر کوم، چې د نړۍ ټوله ښکلا زما په برخه ده.**

***

**مرگ راته مه یادوه**

**زه خو ستا د لاسه هره ورځ مرمه.**

***

**زه به څو پورې تنها یم**

**نه پوهېږم**

**زما ژوند ولې داسې بې معنی دی**

**مینه د زړه نه کیږي**

**دا دسوال مینه خوند نکوي**

**چې هره ورځ خفه یې او زه مو پخلا کوم.**

***

**نن یې د تېر په څېر نه خندل**

**نه پوهېږم، چې ولې خاموشه رانه روانه شوه.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اې!**

**څه شوي دي ته مه ځه، ودرېږه!**

**هغه ورځ مې هم يادېږي**

**چې ويل دې زوړمئين په مخه راشي ورته نه گورم**

**نه پوهېدم، چې ته بل مئين هم لرې**

***

**هغه به دا خبره ښکلې اود شونډوپه سر کوله چې مينه مې يې، ژوند مې سکون مې يې.**

***

**زه نه پوهېدم چې زما پرته نور د ياراني تارونه هم لرې.**

**اخ!داولې موداسې وکړل!؟**

***

**هغه ناروغي چې تا پرې اخته کړی يم**

**تنهايي ده.**

***

**اې!**

**تاسو پريکړه وکړه چې پرته ستا هم ژوند کولای شم**

**او گورم تر کومه به زما څخه جلا گرځې.**

**تاسو ځئ لاړشئ ستاسو مخه ما نده نيولې که چېرته راوگرځېدې، نودېربه دې ناوخته کړې وي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وفا**

**اخ!**

**ته کومه وفا یادوی هغه چې خپلې کړی ژمنې دې پوره نکړی**

**زه ستا مینه هغه وخت ګڼم چې خپلې کړې ژمنې پوره کړئ.**

**چې هغه وخت دې یادوم کله مو احساس زما د مینې وکړو.**

***

**د درواغو پیل خوتاسووکړو**

**زه داول نه ستاسوسره په ریښتیا روان وم.**

***

**ما چې خپله زړه مینه هیره کړه**

**فکر دې وي یو ورځ تاسو هم بریالی کیږي.**

**مینه یوځل کیږي خو هیڅکله نه هیریږي،**

**نو تاسو ولی زه هیر کړم**

***

**ای!**

**زه درته په ریښتیا هم نه یادیږم**

**ولی دی زړه داسې کلک کړ**

**ته لاړې خو زما ژوند دې هم د ځان سره یوړو.**

**نه پوهیږم چې ته مې څه وې**

**وخانده، ستا خندا سره زما د زړه ناروغي نوره هم کمیږې**

***

**احساس مې ندې وژل شوی**

**تاسو زما احساساتو سره لوبې کوئ**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دومره مغروره هم مه اوسه**
**چې په زړه مې د مينې پر ځای نفرت درته پيدا شي**
**ورشه هغه ته ووايه چې نن يې بيا ياد کړې**
**نن يې زاړه زخمونه بيا تازه شول يو ځل يې د درد دوا نشته**

***

**نښه د لاس به هغه وخت وساتم چې ستاسو شتون موجود وي.**

***

**هغه مينه به زه څه کړم چې شروع هم په ژړا او ختم هم په ژړا**
**هغه ښکلا مه يادوه چې لباسي وي**
**اصلي ښکلا زه ستا په سترګو کې ګورم**

***

**باور نه درلودل داسې ده چې مينه نلرې**
**زما هره خبره تاسو بې باوره ګڼئ**

***

**ای! ته پوهيږې**
**اوس هغه صحت نلرم،**
**کوم چې ستا په شتون کې مې درلود**

***

**هغه خبرې اوس هم را په زړه شي**
**چې دواړه خنګ په خنګ به روان وو**
**اوخبرې به مو کولې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



را په زړه شوې
خو زړه ته مې وویلې
نور يې مه يادوه، ځکه اوس تاسو هم نه يادوي
ای!
ستا په مينه کې شاعر شوم
نور څه نه ليکم صرف ستا د ښکلا تعريف کوم.
***
سترګې دې داسې ښکلې دي
چې په ليدو يې هريونه زړه وړي.
***
تاسو همېش ويل، چې مينه لرم
هغه مينه دې څه شوه، چې نن يې تنها پرېښودم.
***
ستا تصوير به اوس څه کړم
زمادژوند تصويرخوتاسوتمام کړ
نه پوهيږم چې ستاسو مينه څنګه هيره کړم
***
هغه درمل چې ستا سره دي
په نړۍ کې نشته صرف ما ته خوشحالي راکوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



موسکۍ شوه راته؛
ومې ویل څه دي؟
هیڅ ستا په سترګو کې مې مینه ګورم
***
اخ!دا څه وایې دومره درته ګران یم چې زما یادونه دې هر وخت خوشحالوي
***
نن یې وویل راشه
خوشحاله شوم چې سکون به راکړي
خبر نه وم چې د لاس نښې بیرته راکړې
هغه درد چې اوس درمل یې په نړۍ کې نشته مینه ده
خو ته یو ځل راته وخانده د تل لپاره به جوړشم.
***
ای!تاسو فیصله وکړئ د یارهره خبره منم مګر بیا هم زما په مینه باورنه کوي، څه وکړم؟
***
پوهیږم چې مینه د بل سره کوی
نه غواړم ستا دا لباسي خندا وګورم.
هغه مینه چې ستا په نوم مې تا سره پیل کړه ستا په نوم به یې پای ته رسوم.
***
ناست یم ترهغه پورې
چې ترڅوستاسومسافرۍ ورځې شپې ختمې شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



***

مينه ډېره خوږه ده خو درد يې هم مرګ دی
خدای دې څوک نه جدا کوي د خپلې مينې نه
اولنۍ مينه مې ته يې
غواړم ټول عمردې په زړه کې وساتم
که جدا هم شوې ستا مينه به د بل شي.

***

هره اوښکه مې ستا د پاربهيږي خو خفه نه يم پوهيږم چې زما په سير ستا هم دحال دی

***

نه غواړم بې ستا ژوند وکړم
ستا پريکړه چې هرچا سره ژوند کوې
خو زه به ټول عمرستاپه نوم ژوند کوم.
ای!هغه مې هم مينه وه
خو څه وکړم،اوس مې د لاسه ورکړه.

***

که زما نه غير ته بل انتخاب هم وکړې
بيا هم زه ستا سره مينه کوم
نه غواړم چې نړۍ را پورې وخاندي

***

هره شپه مې را په زړه شې
نورڅوک راسره ملګرتيا نکړي چې اوښکې وچې کړی بالښت مې راسره ملګرتيا پيل کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



مینه درسره لرم دومره مینه چې هیڅ اندازه نه لري
پوهیږې څومره؟
څومره چې ستا په تن کې روح وي.
***
تصویر دې دومره ښکل کړم
چې شونډې مې اخر ستا د تصویر رنګ واخلی
مینه د اوښکو په بهېدو نه زیاتیږي
مینه د زړه خبرو په کولو زیاتیږي
نو هیله کوم، درد مه راکوه چې اوښکې مې وبهیږي
***
زما اوښکې ډېرې بې ارزښته هم نه دي
څومره چې ستا په مینه کې هر وخت بهیږي
هیڅکله مه وایه چې ستا شتون نه غواړم یوځلې که درنه جدا شوم
پوه به شې، چې څومره ارزښت درته لرم
***
د مینې په نوم زه اموخته یم
تاسو راته د ژوند کولو په معنی راته ویلی وو
ایا ژوند به داسې وي؟
چې همېشه مې د سترګو اوښکې بهیږي
هغه یادونه مې اوس هیرکړل
کوم چې مې ستاسره امانت وو
غواړم چې نورتنها ژوند وکړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهېږم
اوس هم تصویر پسې هېنداريې گورې
مگر ستا د بيلتون سره مې هر څه پرېښوده.
ته يوازې راشه
هغه تېرانځوردې اوس دپخواپه شان ندی غواړم چې تصویر دې واخلم
***
هر څه په اول ځل مې درته وويل
تاسوراسره منله
نو درد اوس د څه وجې راکوې
***
ژوند مې ځکه وايم
لنډ شو چې اوس رانه تاسو لاس واخيسته
***
زه اوس هم هغه کتاب گورم
کوم کې چې ستا د ژوند ټولې خاطرې ليکل شوي دي.
***
زما ژوند ستا لپاره بې معنی دی
خو ستا ژوند زما لپاره د ژوند کولو سکون راکوي
نه هيڅ څه دزغملو نه دي
وگوره! ستا هغه دردونه چې راکوي يې څنگه يې وزغمم.
***
هغه سترگې به زه څنگه له زړه وباسم
کومې سترگې چې زما د لاسه په سرو سترگو ژاړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د الله نعمتونه ډېر دی په هر څه شکر باید ویستل شي**
**خو مور د ټولو لوی نعمت دی چې تل قدر پکار دی.**
**هغه انځور چې ستا په شتون مې پیل کړی و**
**نن ستا په نشتون نیمگړی پاتې دی**
**ته چې تللې ویلې به دې وای**
**ما نه غوښتل چې ستا د ژوند انځور دې نیمگړی وگورم.**
***
**زما د ژوند هره پاڼه ولوله**
**ستا د ژوند ټولې کیسې پکې لیکل شوي دي**
**هره خاطره تا ولې د خپل ژوند په کتاب کې لیکله**
**زه پوهېدم چې یوه ورځ مې پرېږدې**
**او د تل لپاره راڅخه جلا کیږې.**
***
**تا ویل چې مینه به درکړم خو ما درسره نه منله**
**پوه شوم، چې مینه یعنې ژوند، کوم چې ستا په سترگو کې یې گورم**
